مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوارسنګروال
۲۰۲۱/۱۲/۰۳

# د یوه ځا نګړي تا ریخي پېر مخکښ،

## د میرویس خان هوتک په تړاو یوه نوې څېړنه

## ۳۱ برخه

دا چې کندهار یو ځانګړی جغرافيوي جوړښت لري او یو لرغونی تاریخ، نو ځکه خو د هر واکمن او زورواکي لپاره د پام وړ وه.

په دغه تاریخي پېر کې چې موږ پرې غږېږو کندهار د هندي، ایراني او ترکي توکو

یو مهم مرکز هم وه نو ځکه خو بابر مخکې تر دې چې د لودي ابراهیم په وړاندې په هند برید وکړي کندهار یې ونیو. (۱۵۲۲ ز کال) ولې د بابر زوی همایون د ایراني واکمنو د مرستې له کبله چې غوښتل یې د هند د سوري واکمنو په وړاندې ودرېږي نو بیا یې کندهار صفوي پاچاهانو ته پرېښود. (۱۵۴۵ ز کال) خو بیا هم کندهار د پنځوس کالو په شاوخوا کې د هندي ګورګانیانو او یو سلو دېرش (۱۳۰) کالو (۱۵۲۲ – ۱۷۰۷) په شاوخوا کې د صفوي واکمنو ترظلمونو، ګواښونو اوبریدونولاندې وو .

که څه هم له دې نه څو پېړی د مخه غلجیانو له غزني نه تر کندهاره او ابدالي مشرانو د کندهار له جنوب لوېدیځ نه تر ارغنداب پورې د سیمه ییزو واکمنو په څېر واک چلوه.

د دغو سیمه ییزو واکمنو په لړ کې یو هم د میرویس خان کورنی وه چې د مور او پلار له خوا د خپلو ټبرونو مشران او خانان ول، چې موږ د ساري په ډول د نازو انا پلار سلطان ملخي توخي یادوو چې د هند د مغلي او ایراني صفویانو لخوا د ده واک له غزني نه تر جلد که پورې په رسمیت پېژندل شوی وو.،

همدارز حاجي میرخان (میرویس نیکه) دپلار لخوا په یوولسمه (۱۱) پېړی کې، هوتک بابا ته چې د خپل قوم مشروو،رسېږي نو ځکه خو د میرویس نیکه واک او ځواک د تاریخ په پانو کې یوه ناڅاپي پېښه نشو ګڼلی.

د میرویس خان پلار شاه عالم خان نومېده، چې دی د هوتکیانو مشر او یو نامتو خان وه ،مېرمن یې نازو نومېده چې یوه با توره مېرمن ګڼل کېده .

پلار یې ملخي توخی نومېده چې ایراني او هندي واکمنو د ده خاني او مشري په رسمیت پېژندلې وه.

میرویس خان په ۱۶۷۳ کال وزېږېد او دا هغه مهال دی چې افغانستان د صفویانو او د هندي ګورګانیانو تر ګواښ لاندې وو اوددوی تر مینځ وېشل شوی وو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په څېر و لولئ

حاجي ميرخان پخوا تر دي چي د هېواد سياسي چارو ته يې پام شي نو ده د خپل پلار تر سيوري لاندې غوره وګڼله چي په سوداګريزو چارو بوخت شي.

ډېر ځله به له هغو سودا ګرو سره ليدل چي کاروانونه به يې له هند نه ايران ته تلل او راتلل.

ولي کله چي ده ته دا څرګنده شوه چي هېواد يې د زورځواکو په منګولو کي ښکېل دی نو غوره يې وګڼله، چي د هېوادوالو ستونزو ته فکر وکړي هغه و بيا يې په سياسي هلوځلو لاس پورې کړ او په دې تړاو يې ډېر زړبرياوې تر لاسه کړې ، چي د څو برياليتوبونو لاملونه يې په لنډيز سره را اخلو:

-لومړی د ميرويس نيکه سياسي اوښياري او له وګړو سره د ده ښه چلند او خواخوږي.

-دويم که نوموړی له يوې خوا د غلجيانو مشر وه خو له بلي خوا د ابداليانو زوم هم يادېده ځکه چي د ده خسر د سدوزيو د قوم مشر جعفرخان نومېده چي د شهر صفا اوسېدونکی و.

-دريمه خبره دا چي د ابداليانو ډېر نامتو مشران د صفوي چارواکو لخوا ووژل شول نو ځکه دوی هم د ګرګين په وړاندې د ميرويس نيکه ملاتړي شول.

-څلورم پخپله د بهرنيو ظلمونه دې کچي ته رسېدلي ول چي نور هېڅ افغان ته د ځغم وړ نه وو. لکه د دولت خان ابدالي او د هغه د زوی نظر محمد وژنه چي وروسته ګرګين د دولت خان بل زوی رستم خان هم په ډېرې بېرحمی وواژه. له دې سربېره د دوی يو بل خواخوږی چي فقير نومېده هغه يې هم له مينځه يووړ.

ځني واړه واړه لاملونه نور هم وه چي ابداليانو او غلجيانو ميرويس خان خپل مشر وټاکه. دا چي د افغانستان نورو قومونو په دغه لړ کي بلوڅانو چي د ميرويس نيکه ملا وتړله د دې لامل هم څرګند وو. او هغه دا، پخوا تر دې چي ګرګين له شل زره لښکر سره د کندهار د بېګلربېګي په نوم کندهار ته راشي ميرسمندرخان بلوڅ کندهار نيولی وه ،خو د ګرګين (وختنګ د سلطان حسين په وخت کي مسلمان شو) له ډاره بېرته بلوچستان ته وتښتېد. ولي بيا هم بلوڅو او پښتنو ګرګين ته د يوه ګډ او مشترک دښمن په سترګه کتل. د صفوي شاه حسين د واک په مهال «۱۳» بيلګربيګان موجود وواو دا يو دولتي منصب ګڼل کېد ه .

ګو رګين په پای کي دې پرېکړې ته رسېدلی وه، چي ميرويس خان ده ته يو بل دولت خان دی او دی هم په دې پوهېدلی وه چي ګرګين نوموړي ته ښه نيت نلري، نو ځکه خو له کندهار نه زابل ته راغی او له هغه ځايه بيا خپل پلرني ټاټوبي «سيوري» ته لاړ.

ګورګين د ده له لاسه يو مکتوب صفوي دربار ته واستوو، چي ميرويس صفوي سلطنت ته يو ګواښ د او پرې نږدې چي له اصفهان نه ووځي.

خو لکه څنګه چي د مخه دې ټکي ته اشاره شوې ده بيا هم ميرويس د يوه پياوړي ډيپلومات او سياست پوه په توګه دا ځانته څرګنده کړه چي د کندهار بيلګربېګي په دربار کي چا ته نږدې دی او چا ته ندی. نو هغه چا ته چي ندی بيا يې د کندهار ټولي ستونزې او د ګرګين ناوړه کړه وړه ورته په ډاګه کړل.

نوموړي د همدې باور له مخې حج ته لاړ او د مراسمو له ادا نه وروسته کندهار ته را ستون شو.

ميرويس نيکه څرنګه واک ته ورسېد؟
د کندهار وګړي لکه څنګه چي د عبدالله خان ګرجي د واک په مهال (۱۶۹۸ ز – ۱۱۱۰ هـ ق) له راز راز ستونزو او کړاوونو سره لاس او ګرېوان ول. دا رنګه د ګرګين د حکمرانی په وخت کي هم له هر ډول ګواښ سره مخ وو.

د سيمي وګړو څو ځله د عبدالله خان له لاسه شکايت وکړ خو صفوي دربار ورته پاملرنه ونه کړه. بيا دوی د اورنګ زېب زوی «شاه عالم» ته ورغلل (دی هغه مهال د کابل واکمن وه) ولي ده هم د خلکو غوښتنو ته يا د صفويانو له وېرې يا خو د هندوستان چارواکو ورته اجازه ورنکړه غوږ کېښنود.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

په ښار صفا کې د ابدالیانو پاڅون هم کوم څه ترلاسه نکړل .

په ۱۷۰۳ ز کال بلوڅانو په کندهار یرغل وکړ ولې د صفویانو واک ته یې د پای ټکی کېښنود.

صفوي چارواکو او سلطان حسین چې د کندهار پېښې له نږدې څخه څارلې او د دې سیمې په ارزښت پوهېدل، نو ځکه خو یې ګرګین (۱۷۰۴ز – ۱۱۱۶ هـ ق) له یوه پوځ سره کندهار ته ولېږه.

نوموړي د پښتنو او بلوڅانو پاڅونونه، نه یوازې له ماتې سره مخ کړل بلکې د ابدالیانو مشر دولت خان یې له مینځه یووړ او میرویس خان یې صفوي دربار ته د یرغمل په توګه واستوو.

سره د دې چې ګرګین ډېر کوښښ وکړ، چې د افغانانو تر مینځ نایووالي ته لمن ووهي او ان تر دې چې د ابدالیانو ځمکې یې په غلجیانو باندې ووېشلې ،خو بیا هم کله چې میرویس خان بېرته کندهار ته را ستون شو نه یوازې ده یرغلګرو صفویانو ته په کرکه کتل، بلکې همغو غلجیانو هم دوی تېرې کوونکي ګڼل.

»وروسته تر دې چې ابدالیان د غلجیانو له امله له کندهار نه هرات ته کډه شول بیا هم غلجي ټبر د ایرانیانو واکمنی ته د شک په سترګه کتل او دوی یې یرغلګر ګڼل.»([1]

د کندهار شاوخوا ولسونو له میرویس نیکه نه ډېر تود هرکلی وکړ. که څه هم ګرګین په ښکاره د نوموړي درناوی کاوه ولې په زړه کې یې د هغه د ب د به نشوه لیدی.

میرویس خان د یوه دود په پلمه چې ګني له حج نه راغلی دی غواړي پخپل پلرني کلي کې خیرات وکړي له ګرګین نه اجازه واخسته او هغه هم ومنله او بیا خپل کلي ته لاړ.

د بېلابېلو سیمو د بېلابېلو قومونو ډله ډله مشران د حاجي میرویس خان لیدو ته راتلل خو د دغو ناستو او لیدلو موخه دا وه چې یوه سیاسي بریې ته لار پرانېزي.

ګرګین هم هسې ساده انسان نه وه، دا هر څه یې له نږدې څخه څارل نو ځکه یې پرېکړه وکړه چې د میرویس خان واک او ځواک د خلکو په مینځ کې کمزوری کړي.

نوموړي وپتېله چې د خپل زوی لپاره د هغه ښکلې او ښایسته لور وغواړي او همدغسې یې هم وکړل.

میرویس نیکه د سلا او مشورې لپاره په کوکران کې یوه لویه جرګه را وبلله او ورته وې ویل چې د ګرګین د خپښنې دغه شرط د ځان لپاره زما د وفادارۍ نښه ګڼي، نو پرېکړه وشوه چې د میرویس د لور په نوم یوه بله نجلی د ګورګین کور ته ولېږي.

له دېنه وروسته بیا هم ګرګین خپلو ظلمونو ته دوام ورکړ. میرویس خان یو ځل بیا د مشرانو یوه بله جرګه را وبلله چې د کندهار ختیځ په مانجې سیمه کې جوړه شوه.

»ریدي خان مومند په محمود نامه کې راوړي دي چې په دې جرګه کې لاندې مشران را غونډ شوي وو: سیدال خان ناصر، بابوجان بابي، بهادرخان اندړ، ملا پیر محمد میاجي، عزیزخان نورزايي یوسف خان هوتک، یحیی خان، حاجي نور محمد خان چې په انګو مشهور وه، یونس خان کاکړ چې له ژوب نه راغلی وه.

همدا رنګه د بلوڅو، هزاره ګانو او نورو قومونو استازو هم په دغه دویمې جرګه کې برخه اخستې وه.»([2]

پدغه جرګه کې چې کومې پرېکړې شوې وې یوه یې دا وه چې بلوڅان، د کاکړستان وګړي، ترین او نور قومونه باید د مالیې له ورکړې نه ډډه وکړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ولي بيا هم ميرويس د خپلي سياسي اوښياری له مخي له دښمن سره د دوستۍ لاره غوره وګڼله ګرګين هم په دې ډاډه وه چي حاجي ميرخان يې تر شا دی نو ځکه يې د ماليي سرغړوونکو ته د سزا لپاره يو لښکر د ژوپ، پشين او بوري خوا ته ولېږه او د پوځيانو بله ډله يې د مستنګ او شال کوټ پلو ته واستوله چي په دغه ډله کي د ميرويس خان وراره د يحيی خان زوی يار محمد خان هم و.

ميرويس خان د خپل وراره په لاس يو ليک هم د بلوڅو مشر مير عبدالله خان ته ولېږه.

که څه د «تاريخ سلطاني» ليکوال سلطان محمد کښلي دي چي د بلوڅو او کاکړو د پاڅون د ځپلو لپاره پخپله ګورګين دا پرېکړه وکړه چي سيمي ته لاړ شي.

له نوموړي ليکوال نه پرته يو شمېر نور څېړونکي هم انګېري چي ګورګين له يو زر (۱۰۰۰) ګورجي سورو سره سيمي ته روان شو او ميرويس ته يې هم وويل چي ده پسي وخوځېږي.

هغه وو چي دی هم له درې زره(۳۰۰۰) ځوانانو سره وخوځېد.

ولي کوم پيغام چي ميرويس د بلوڅو مشر ميرعبدالله خان ته استولی و موخه يې دا وه چي ګرجي پوځونه بايد هلته تم کړي.

د ايراني پوځ مشر ميرزا «سندل» د نن او سبا په تمه په سيمه کي وساتل شو. خو د کاکړستان وګړو د خپلو پرليسي بريدونو له امله د خپل مشر يونس په لاربسودنه په ګورجيانو رنا ورځ توره شپه کړه او په تېښته «شال کوټ» ته ستانه شو.

ريدي خان مومند په دې اړه په محمد نامه کي کښلي دي:

يونس کاکړ وکړيرغل په ګرګين

پښتنو جوړ کړ په ګرجيانو ناورين

»په کندهار کي ډېر ګرجيان وو

چـــي رعيت يـــي افغانان وو

دوي (وو) واړه شـــرابيـــــان

ډېـــــــر بـــي حـــده ظالمـــان«

ميرويس خان کوښښ کاوه چي له يوې خوا له ګرګين سره خپل باور وساتي او له بلي خوا يي کوښښ کاوه چي ځان پياوړی کړي. نو په همدغه بنسټ يې د ګرګين تر غوږه دا خبره تېره کړه چي کاکړان او بلوڅان ډېر پياوړي دي پکار دی چي د سيمي له بېلابېلو قومونو نه يو لوی لښکر جوړ کړي.

ده بابوجان بابي ته دنده وسپارله چي زابلستان ته لاړ شي او د اتغر شاوخوا سيمو نه يو لښکر را ټول کړي. يوسف خان يې هم دې ته وګماره چي په همدغي موخي د سيوري سيمي ته لاړ شي او همدا رنګه سيدال خان ناصر، يحيی خان او يو شمېر نور قومي مشران يې هم دېته وهڅول چي د يوه پياوړي او ځواکمن پوځ د جوړولو لپاره هلي ځلي ګړندی کړي.

پخپله ميرويس خان وانې ته لاړ چي هلته له کرلانيو، غلجيو او نورو ټبرونو سره وګوري او د ملي يووالي په رڼا کي د ګرګين د بريدونو او ظلمونو په وړاندې را پاڅي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

په داسي حال کي چي له نومړي سره زرګونه جنګيالي مله وه نو بيا يي ګرګين ته وکښل چي زموږ لښکر چمتو شوی دی څه باید وکړو؟

»ګورګین ورته ولیکل د ذیقعدة الحرام پر ۲۹مه، ځان د ارغستان ده شیخ ته را ورسوه.

د سیوري د سره غره په شنه کوتل کي... د هوتکو او ناصرو مشرانو د ملي قاید تر مشرۍ پنځمه جرګه جوړه کړه... داسي فیصله وسوه چي دري زره کسه لښکر به د ترنک له لاري ځان کندهار ته رسوي... میرویس خان نیکه شپه په لاره تېره کړه او د ورځي يي هم ځان تال کړ. ده شیخ ته په شپه ورسېدی... مهم ځایونه يي ونیول... د ګرګین زر کسیز پوځ تس نس سو... ګرګین ژوندی ګرفتاره سو... مراد خان په يو ګذار مړ کړ.«([3])

له هغه وروسته میرویس خان خپلو جنګیالیو ته د ګرګین د پوځ جامي په تن کړې او په ډېرې اوښیارۍ د شپي په تیاره کي کندهار ته د ننه شول.

افغان مشر چي د کندهار د کلا د نیولو نخشه د مخه جوړه کړې وه نو ځکه خو په اسانۍ سره په دې بریالی شو چي واک ترلاسه کړي.

نومړي د پارسیا نواو ګرجیانو وسلي او پیسي، چي د مالیي له لارې يي افغانانو نه (په ځانګړي ډول غلزو طلاوي يوه قبه چي هره ورځ يي پارس ته لېږلې) را ټولي کړې وې تر ګروته کړې.

ایراني پوځیان چي د دولس زره په شاوخوا کي د کندهار په کلا، د شېرو زرو تنو په شاوخوا کي په کاکړستان او بلوچستان او زر تنه چي په خپله له ګرګین سره وو له دې ټولو نه سپکي او درني وسلي ترلاسه شوې چي په مټ يي میرویس نیکه يو پیاوړی پوځ جوړ کړ.

له دې نه وروسته چي میرویس نیکه کندهار او شاوخوا سیمي ونیولې نو بیا يي د افغانانو له مشرانو څخه يوه بله جرګه جوړه کړه چي بیا د همدې جرګي لخوا د ولسمشر په توګه وټاکل شو.

میرویس خان او جرګي

په افغانستان کي جرګي اوږد تاریخ لري اوله لرغوني افغانستان نه را واخله د میرویس خان تر مهاله پوري دغو دوديزو جرګو د پام وړ ملی ارزښت درلود.

د کندهار د ښار شمال ختیځ لور ته په دېرش ملي مانجه (۳۰ میل) کي د افغانانو يوه مهمه جرګه پداسي وخت کي جوړه شوه چي له دېنه د مخه صفوي شاه حسین په ۱۶۹۴ ز کال ګرجستانی ګرګین کندهار ته واستوه.

میرویس خان د ده د ظلمونو په وړاندي يوليک صفوي دربار ته ولېږه ولي و نه رسېده، خو ګرګین له دې شکایت ليک نه خبر شو او میرویس خان يي چي د کندهار کلانتر او مشر وه له کاره ګوښه کړ او بیا يي اصفهان ته ولېږه.

میرویس خان د اصفهان د دربار باور ډېر ژر ترلاسه کړ، حج ته لاړ او بیا کندهار ته راستون شو. لومړی يي د ګرګین باور ترلاسه کړ او بیا يي د ټولو قومونو له مشرانو سره اړیکي ټینګي کړې.

میرویس خان په لږ وخت کي د تاجک، ازبک، هزاره، بلوڅ او پښتنو مشرانو او سردارانو په مینځ کي د يوه ښه مشر او رهبر په توګه وپېژندل شو.

نومړي او نورو مشرانو د «مانجي» په جرګه کي پرېکړه وکړه چي د ګرګین ټول پلویان باید له مینځه لاړ شي او هېواد ازاد شي.

د «جرګه های های ملی افغانستان» په کتاب کي د افغانستان در مسیر تاریخ په حواله کښل شوي دي:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولـئ

»میرویس خان پرته له ځنډه د ګرګین په سرتېرو برید وکړ او په کندهار کې یو خپلواک ملي حکومت اعلان کړ. (۱۰۸۸ هـ - ۱۷۰۹ ز کال) او ټولو په ګډه یاني تاجکانو، هزاره ګانو، ازبکانو، بلوڅانو او پښتنو د بهرنیو په وړاندې پاڅون وکړ.»([4])

له دغې جرګې پرته میرویس نیکه د هېواد د ازادۍ په موخه نورې جرګې هم جوړې کړې وې چې لومړۍ یې په کوکران کې د قوم مخور مشران سره را ټول کړل. او همدا رنګه نورې جرګې هم د اړتیا له مخې په بېلابېلو وختونو کې جوړې کړې دي چې د ټولو شمېر شپږو جرګو ته رسېږي خو درې جرګې یې ډېرې مهمې دي:

لومړۍ جرګه د ارغنداب درود په غاړه په کوکران کې جوړه شوه، چې څنګه کولی شي د فتوا له مخې د بهرنیو په وړاندې ودرېږي؟ دویمه جرګه د کورګین په وړاندې پاڅون وه چې په مانجه کې جوړه شوه او د خپلواکی وثیقه لاسلیک شوه چې په پایله کې د ټولو قومونو په ملاتړ بېګلربېګي ګرګین او د هغه یوځ له مینځه لاړ.

»کندهار ښار یې ونیو او د ګرګین وراره «الکسندل» میرزا د هغه مړی واخست او له ښځو او کوچنیانو سره یې هرات ته وتښتېد.»([5])

دریمه جرګه هغه وه چې د ولس مشرانو له میرویس نیکه سره ژمنه وکړه چې د ده تر شا به د ژوند تر پایه درېږي او د خپل ملي مشر د لاربنودني سره سم به د خپلواکۍ ساتنه کوي. ( نوربیا )

- [1]لکهارت انقراض سلسله صفویه له ۹۵ مخ نه تر ۱۱۱ مخ پودې.
- [2]هوتک امان الله خان د خپلواکی لمر څرک ۴۸ مخ.
- [3]همدغه اثر ۵۷ او ۵۸ مخونه
- [4]فیض زاده محمد علم جرګه ای بزرګ ملي ۲۸ – ۲۹ مخونه.
- [5]حبیبي پوهاند عبدالحی د افغانستان لنډ تاریخ ۲۶۷ مخ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ